مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید ۲۰۲۰/۰۳/۲۱

# پر ښار وبا ګډه شوه...



کلونه وړاندې چا کتاب راکړو،
ویل یې ، دا ووایه!
دا ډیرمهم کتاب دی ،
دادنړۍ شهکار دی...
لیکوال یې ډیرې بدې ورځې په لیکوولیدي...
دشیطانانو داستازو،د سپین پوښو خوتور زړو له لاسه...
کتاب مې واخیستلو،
ماته مې خپل پیغمبرسم را یاد شو...
هغه هم سپین پوښو تور زړو والا
دخپل کتاب په خاطر ،
دلوی الله له کوره
په تښتیدو نا چارکړ...
کتاب مې واخستلو،
پاڼه مې یې واړوله ،
نوم یې دیکامرون یا لس ورځې یا لس کیسي و...
لیکوال یې بوکاچیو و...
داټلي استوګني...
کتاب مې ولوستلو،
کیسه یې ښکلې وه...
خو له دردونو ډکه...
لنډون یې داسې و چې:
په ښار وبا ګډه شوه...
هرڅه یې پوه پنا کړل ،
ډیرې ځوانی کړې ترخاورو لاندې ،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ډېرې يې مخې مينانې نيمه خوا شولې...
پر ښار وبا ګډه شوه...
هيچا ځان ونه ساته ،
دومره ظالمه وه چې ،
نه يې ماشوم ته کتل،
نه د زړو په غم وه ،
نه يې ګلونه پرېښول ،
نه يې غوټيوته ترګلو پورې وخت ورکاوه..
ډېره ظالمه وه  دا...
دا دآدم پرکور را غبرګه بلا...
پرښار وبا ګډه شوه...
تولې کوڅې اومالتونه واړه ،
په مړو وخوشيدل ، وپړسيدل...
خو د چا شور نه خاته...
نه چا پرچا ژړل ،
نه چا دچا پر ښواوبدو باندې خولې پرانيستې ،
يوازې يوه سره سيلې لګيده...
يوازې يوه آسمان دې هرڅه ته په خپله کتل ،
داسې ، په داسې سترګو ،
لکه چې دا هرڅه دده په نغوته سم دم کيدل! ... ؟

په ښار وبا ګډه شوه...
له مور ماشوم په زانګو کې پاتې شو،
له پلاره لاره ورکه شوه حيران و،
له نيکه هم دحق کتاب په غيږ کې پاته لاړو،
انا لا ناسته وه دموردمړې څنګ کې يې
دمړه ماشوم  زانګو لا زنګوله...
خو سبا بيا له دې سره په دغه ښارکې مل شې..
خوتار په لاس کې داهم لاړله...
ترسبا پاتې نه شوه...

په ښار وبا ګډه شوه...
هيڅوک يې نه پرېښودل ،
پرهرچا په پسې وه ،
يو ليوه نه و چې دا مړي وخوري ،
يو زمرى نه و چې دا مړي بيا خپل ښکارووبولي ،
يو نيرون نه و چې ددغه ښار په مړينه باندې ځان اتل کړي ،
يوعين نه و، غين نه و، چې دروغ ووايې وبې ژغورې...
يوعين نه و، غين نه و چې يې خرڅ کاندې پيسې پرواخلې...
يوعين نه و، غين نه و چې پردې لښکرې پرې راولې مره يې کاندې...
يوملا نه و، اخوند نه و چې څه ووايې او هرڅه بند کړي...
هرڅه دروغ وو، چې دوى ويل اوموږپه پټوسترګو سرښوراوه...
په ښار وبا ګډه شوه ،
هرڅه سپيره پراته وو ،
له هرڅه دم ختلې ،
نه چا دنوح د بيړۍ نوم اخيستو،
نه چا عيسى ته دمسيح په مينه لاړې څارې ،
نه دمهدى اخرزمان په هيله ،
د مکې دروازې ته زينې وړلې...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

نه ددجال له کاله ځوک ښکاریدل ،
اونه دې جوجو اوما جو په کیسه کې ځوک وو...
یوعین نه و، غین نه و، چې دروغ ووایي ویې ژغوري...
یوعین نه و، غین نه و چې یې خرڅ کاندې پیسې پرواخلي...
یوعین نه و، غین نه و چې پردې لښکرې پرې راولي مړه یې کاندي...
یوملا نه و، اخوند نه و چې څه ووایی او هرڅه بند کړي...
هرڅه دروغ وو، چې دوی ویل اوموږ‌یه پټوسترګو سرښوراوه...

په ښار وبا ګډه شوه...
ما تر همدغه ځایه،
دغه کتاب لوستی و،
خو اصلی کیسه یې لا پاتې وه چې:
په دغه بی ساه ښارکې ،
په دغو مړو ډکوکوڅو کې یوځای ،
د سرې وبا له سترګو یوې خواته ،
په کوم ویرانه خرابات کې چیرې ،
لسو ځوانانو ، نجونو ووړکو،
دا ژمنه وکړه چې له دغه ښاره ،
نور ځان پریوه خوا کړې او لرې ولاړشي ،
هلته چې نورنوپردې خوا کله راونه ګوري...
نوردا هرڅه دې سرې وبا ته پرېږدي ،
هو، دغې وبا ته سم دم ،
چې ژوند خوری ، روح خوري او آدم په پخه چاړه وژني...
دغې دعین مورته ، دغې دغین میرې ته...
دپلندرو او بې رحمو فاحشو مورته ؟؟

په ښار وبا ګډه شوه...
ځوانانو ژمنه وکړه ،
له ښاره وتښتیدل ،
داسې یوځای ته ولاړل ،
چې هلته کله هم وبا خپل سیوری نه غوړاوه...
دوی ژمنه کړې داوه ،
چې هرڅه هیرکاندي:
اه د درواغو ټولي ،
چې دوی یې ټول ژوند ،
په طلسمو باندې تړلي وو ټول ،
بس یومنزل یې داو،
چې په مزو چړچو کې ،
اوپه اوږدو کیسو کې...
هرڅه هیرکړي.
ځان د ژوندون ترسرمنزله پورې ورسوي...
څو ژوند دمرګ له بلا وژغوری شي...
اوټول ژوندي پاتې شي...
د سرې وبا له غمه...
د درواغجنو او دوه رنګو طلسموله ښکیله...
دشیطانانو له استازو واړو...
دوی ژمنه کړې داوه...
ددې له پاره چې ،
شا ته ونه ګوري،او هرڅه هیرکړي...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هريوه زلمی به يوه ورځ ،
اوهرې پيغلی به هم ،
خپله کيسه کوله ، خپله اوږده اوله هيښ ډکه کيسه...
ټولو به اوريده په مينه مينه ،
اونورهرڅه يې کړل هير ،
دهغي سرې وبا ،
دهغي لويې بلا،
هرچا کيسه ويله...
اويو بل ته شپه او ورځ ،
ورغاړه شوي وو، سم ،
څو دا بلا هيره کړي...
اودهغي له غمو، ستونزوڅخه...
هلته خوندي پاتي شي...
په ښار وبا ګډه شوه ... !؟
ما کتا ب ټول ولوستو،
تاسي يې هم ولولئ...
اودليکوال همت ته مي سرټيټ کړ،
چي ده په څومره ستونزو،
څومره شکنجو،
څومره توبو ،
دنيا ته دا پيغام ور ورساوه ،
چي ځوانان لا ژوندي وي ،
چي ځوانه مينه،
دهوس په ځپو خوله لګوي ،
اوخدای يې هم شاهد وي...
ژوند به تلپاتي وي ،
ژوند به تلپاتي وي ،
تنها کتاب ولولئ...
يارانو مه داريږئ!
يارانو مه داريږئ!
مه داريږئ!
مه داريږئ!!!




د شل شل کال د مارچ ۲۰
د ۱۳۹۹ کال د ورې لومړی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ